مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمیع الدین افغاني

۲۰۲۰/۰۶/۰۱

# میپرست

زه ساقي او مى خاني سره اشنا يم
ځکه اوس د ټول غمونو بې پروا يم

نصیحت په مـــا د هيڅ چا اثر نکړي
زه په خپله په نيشو کې لوی پيشوا يم

سم او بد هسې چې ما دي پيژندلــــي
په خپـل عقـــل د زاهــــده زه دانا يم

رنګـــيني د ميخاني سره عـــادت يم
په مـــستي کې د ساقي د زړه دنيا يم

د رندانو او مستانو په حساب کـــې
حساب شوی يم نه اوس، بلکي پخوا يم

چي ساقي د ميـخاني سره مي راز شو
بيا تـــر نورو هوښيارانو مستثنی يم

افغاني چي په نيشو کــــې څه لـــيدلي
په خمـــارکــــي په هغه لـــيدو سلا يم
--------------------------------
جنـــوري ۲۰۰۴
م ۰ کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځير و لولـئ